ABADI weekly

هفته نامه

آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

د مطبوعاتو ریاست

ګڼه ۲۶

نېټه: شنبه، د جمادي الأول ۴مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال







انرژي په ځانګړي ډول بریښنا د اقتصادي ودې له پاره مهم فکتور بلل کېږي. د اقتصاد هر سکټور په یوه نه یو ډول انرژۍ ته اړتیا لري. له ساینسي انکشافاتو وړاندې د انرژۍ اړتیاوې له ځارویو، انسانانو او هوا څخه پوره کېدې، خو کله چې ساینس پرمختګ وکړ؛ نو ځای یې د انرژۍ د تولید نویو توکو لکه اوبو، د ډبرو سکرو، تېلو، ګازو او داسې نورو ونیو. که موږ غواړو انرژي تولید کړو، اړ یو چې له طبیعي زېرمو، پرمختللې ټکنالوژۍ او بشري ځواک څخه ګټه پورته کړو. دغه راز د بریښنا د اړتیاوو پوره کولو له پاره کولای شو چې له نورو هېوادونو بریښنا وپېرو، ځکه هېڅ کار له بریښنا پرته سرته نه شي رسېدلی. افغانستان همدې اړتیا ته په پاملرنې سره خپل د اړتیا وړ یوه اندازه بریښنا له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. د وارداتي بریښنا له پاره د مزو غځولو او سب سټېشنونو جوړول اړین دي. په همدې لړ کې د روان کال د لړم په ۲۴مه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د شبرغان - دشت الوان د ۵۰۰ کیلوولټه بریښنا مزي د پاتې چارو او همدارنګه د الوان دښتي سب سټېشن د پراختیا پروژو د بشپړولو موافقتنامې لاسلیک شوې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره صنعت تر ټولو مهم دی، د نړۍ هغه هېوادونه چې له جګړو راوتلي او چټک اقتصادي پرمختګ یې کړی دی، اساسي لامل یې د صنعت پرمختګ دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت په راتګ سره افغانستان هم د صنعت په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی دی او لا هم هڅه کوي چې په هېواد کې د صنعتي پرمختګ لپاره هر ډول شرایط او زمینه برابره کړي، چې تر ټولو مهم یې بریښنا ده.

دا ټکی موږ ته دا خبره په اثبات رسوي چې د اسلامي امارت هڅه داده چې د بریښنا د تولید په موخه له کورنیو سرچینو څخه ګټه پورته کړي. بریښنا تولید او بیا ترې د صنعت په وده کې ګټه پورته کړي. که موږ او تاسو هغو هېوادونو ته وګورو چې نن سبا په نړۍ کې پرمختللي هېوادونه دي، دوی ټولو دغه پرمختګ د صنعت پر مټ ترلاسه کړی دی. نو موږ هم که غواړو چې خپل صنعت مو پرمختګ وکړي، اړ یوو چې بریښنا ورته چمتو کړو. پرته له بریښنا به ستونزمنه وي چې موږ دې پرمختګ وکړو. دا سمه ده چې موږ په کور دننه د بریښنا د تولید پرېمانه سرچینې لرو، خو له دې سرچینو ګټه اخیستل وخت او مالي امکاناتو ته اړتیا لري. تر هغې چې موږ مالي امکانات برابروو، باید په یو نه یو ډول د خپلې اړتیا وړ بریښنا چمتو او ټول هغه سکټورونه چې بریښنا ته اړتیا لري، په پښو ودروو. تر هغې چې موږ د خپلې اړتیا وړ بریښنا په کور دننه تولیدوو، باید خپله د اړتیا وړ بریښنا له نورو هېوادونو وارده کړو. په دې کار سره به مو تر هغې نه اقتصادي حرکت ټکنی کېږي او هم به د پرمختګ له کاروان سره یوځای روان یوو.

# د شبرغان - د شت الوان د ۵۰۰ کیلوولټه مزي د پاتې چارو او همدارنګه د دشت الوان سب سټېشن د پراختیا پروژو د بشپړولو موافقتنامې لاسلیک شوې




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانستان بریښنا شرکت او افغان انوېسټ خصوصي شرکت ترمنځ د شبرغان - دشت الوان د ۵۰۰ کیلوولټه مزي د پاتې چارو او همدارنګه د دشت الوان سب سټېشن د پراختیا پروژو د بشپړولو موافقتنامې لاسلیک شوې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره صنعت تر ټولو مهم دی، د نړۍ هغه هېوادونه چې له جګړو راوتلي او چټک اقتصادي پرمختګ

يې کړې دی، اساسي لامل يې د صنعت پرمختګ دی. محترم ملا صاحب زياته کړه، د اسلامي امارت په راتګ سره افغانستان هم د صنعت په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی دی او لا هم هڅه کوي چې په هېواد کې د صنعتي پرمختګ لپاره هر ډول شرايط او زمينه برابره کړي، چې تر ټولو مهم يې برېښنا ده.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال زياته کړه، له شبرغان څخه تر دشت الوان پورې د برېښنا دغه پروژه چې له افغان انوېسټ خصوصي شرکت سره يې قرارداد وشو، نه يوازې دا چې د هېواد صنعت ته به يې ګټه ورسېږي، بلکې په دې سره به افغانستان ته د سلګونو مېګاواټه برېښنا د انتقال زمينه برابره او په کلني ډول به لسګونه ميليونه ډالره سپما شي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ټولو ملي پانګوالو ته په خطاب کې وويل، اسلامي امارت تاسې ته د پانګونې هر ډول زمينه برابره کړې او بشپړ ملاتړ مو کوي، خو په خبره يې، تاسي بايد خپلې کړې ژمنې په عمل کې ثابتې کړئ.

د غونډې په پای کې محترم ملا صاحب له قراردادي شرکت څخه وغوښتل څو يادې پروژې په پوره جديت سره تعقيب او څومره ژر چې ممکنه وي، په ښه ډول يې بشپړې کړي.

د يادونې وړ ده چې افغان انوېسټ شرکت به د قرارداد له مخې د شبرغان – دشت الوان دښتې د ۵۰۰ کيلوولټ برېښنا لين ۲۳,۷ سلنه پاتې چارې چې ۳۰۵,۱۷ کيلومتره اوږدوالی لري، په ټاکلي وخت بشپړوي. تر دې وړاندې د ياد لين ۷۶,۳ سلنه چارې بشپړې شوې دي. دغه راز قراردادي شرکت د الوان دښتې د ۵۰۰ کيلوولټ سب سټېشن د پاتې پراختيايي چارو د بشپړولو مسووليت هم لري.

دا پروژه به د قراردادي شرکت له لورې په دوو کلونو کې بشپړېږي چې ټولټال ۳۶ ميليونه ډالره لګښت پرې راځي. د افغانستان برېښنا شرکت به د شوې هوکړې د څارنې او ارزونې معيارونو له مخې د پروژو د تطبيق، تخنيکي او مالي چارو کره څارنه او ارزونه کوي. د يادو پروژو په بشپړېدو سره به له ترکمنستان څخه افغانستان ته د ارزانه او لوړ کيفيت برېښنا د لېږد په برخه کې اسانتياوې رامنځته شي، چې هېواد کې به د برېښنا د کمبود ستونزه تر ډېره حده حل کړي.

## شرکت هوایی فلای دوبی پروازهای خود را به کابل از سر گرفت



در نتیجه تلاش های مستمر معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء و وزارت ترانسپورت و هوانوردی بعد از حدود دو سال پرواز های فلای دوبی به افغانستان آغاز و ۲۴ ام عقرب اولین پرواز آن به میدان هوایی بین المللی کابل صورت گرفت. آغاز پروازهای فلای دوبی به کابل نشان دهنده آن است که فضای افغانستان برای هر نوع پرواز ها به حالت امن و عادی برگشته و در تمامی میدان های هوایی افغانستان سهولت های لازم فراهم و خدمات معیاری عرضه می شود. آغاز پرواز های فلای دبی در افغانستان میان شرکت های هوایی در تعیین قیمت های مناسب راه را برای رقابت سالم هموار می کند.

## در شهر کابل تا اکنون ۴۵۵۳۸ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است. این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۵۵۳۸گدا تا ۲۵ عقرب سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۵۸۳زن ، ۶۹۵۵مرد و بقیه ۲۴۰۰۰طفل می باشند. در میان این اطفال ۷۳ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونيزه

# نشست کاری کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی در قصر مرمرین برگزار گردید

چهارمین جلسه کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی در قصر مرمرین برگزار و طبق آجندا پیرامون طرح های سرمایه گذاری از سوی شرکت های سرمایه گذاری داخلی و خارجی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این نشست طرح های اعمار مارکیت تجارتی ملت در ساحه میرویس میدان شهر کابل، نصب دستگاه های اسکنر در بنادر کشور، اعمار فابریکه معیاری به منظور تصفیه کثافات جامد شاروالی کابل، چاپ الکترونیکی جوازسیر و لایسنس و همچنان طرح ساخت دروازه های تولگیت در منطقه پلچرخی ولایت کابل برای بحث و گفتگو ارائه شد که بعد از بحث همه جانبه برای هر یک از طرح های ارائه شده کمیته های جداگانه ایجاد گردید. به کمیته های مذکور هدایت داده شد که گزارشات خود را در زمان معین به جلسات بعدی کمیته بین الوزارتی پیشکش نمایند تا در مورد آن تصمیم نهایی اتخاذ گردد.



## له ترکمنستان څخه د ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا مزي غځولو پروژې ته کتنه



لیکوال: فضل ولي شیراني

### سریزه

د برېښنا کمی د افغانستان لویه او دوامداره ستونزه ده، چې تر دې دمه یې هېڅ حکومت پر حل نه دی بریالی شوی. افغانستان پریمانه رواني اوبه او د برېښنا د تولید له پاره سرچینې لري. د څېړنو له مخې افغانستان کولای شي له اوبو څخه ۲۳زره میګاواټه، له لمر څخه ۲۲۳ زره میګاواټه، له باد څخه ٦٨ زره میګاواټه او له ګازو څخه ٦٠٠ میګاواټه برېښنا تولید کړي. همدارنګه د نوي کېدونکې انرژۍ د نړیوال مرکز د شمېرو له مخې افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ لمریزې ورځې لري، چې کولای شي په هر لس متر مربع کې یو کیلو واټ لمریزه انرژي تولید کړي. له بده مرغه چې په هېواد کې څه باندې څلورو لسیزو ناخوالو له موږ نه دا فرصت تروړلی دی او پر دې نه یوو توانېدلي چې خپله برېښنا خپله تولید او اړتیا مو پوره کړو. نو اړ یوو چې له بهر څخه برېښنا وپېرو. اوسمهال په نړۍ کې ډېرې داسې هېوادونه شته چې د خپلې اړتیا وړ برېښنا له نورو هېوادونو واردوي، خو دا کار هغه مهال کوي چې په هېواد کې دننه د برېښنا د تولید له ټولو سرچینو ګټه پورته کوي، که چېرې یې اړتیا پوره شوه نو بیا او کنه بیا یې له نورو هېوادونو پېري او هېواد ته وارداتي برېښنا راولي. افغانستان خو لکه مخکې مو چې اشاره ورته وکړه د برېښنا د تولید له پاره پریمانه سرچینې لري چې نه یوازې دا چې د خپلې اړتیا وړ برېښنا چمتو کولی شي، تر څنګ یې کولای شي نورو هېوادونو ته یې هم صادره کړي. تر هغې چې موږ د برېښنا د تولید له خپلو سرچینو ګټه پورته کوو او د هغو له پاره امکانات برابروو، اړ یوو چې له ګاونډیو هېوادونو څخه د خپلې اړتیا وړ برېښنا وپېرو.

### افغانستان ته وارديدونکې برېښنا او د هغې ګټې

د برېښنا اهمیت او ارزښت څه په ملي کچه او څه په نړیواله کچه د بشر په پرمختګ او د یوه هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې ډېر مهم رول لري. برېښنا د شلمې پېړۍ له لومړۍ نیمایي څخه وروسته په ژوندانه او صنعتي فعالیتونو کې تر ټولو زیات رول لوبولی دی، برېښنا په معاصره نړۍ کې د بل هر

مصرفي توکي په پرتله ډېر اهميت لري. دا ځکه چې د کورونو له رڼا کولو نيولې بيا د صنعتي فابريکو تر توليد، اطلاعاتو، سوداګريزو فعاليتونو، امنيتي دندو او نورو اقتصادي او اداري فعاليتونو پورې هر څه د برېښنايي انرژۍ پر مټ مخ ته ځي. نو له دې څخه جوته شوه چې برېښنا د انسان په ژوند کې زيات اهميت لري. همدې اهميت ته په کتو اسلامي امارت هڅه کړې ده چې په کور دننه د برېښنا د کچې زياتولو ترڅنګ د اړتيا وړ برېښنا له ګاونډيو هېوادونو څخه وپيري. ۷۷ سلنه برېښنا د تاجيکستان، ازبيکستان، ترکمنستان او ايران څخه وارديږي او پاتې برخه يې په کور دننه توليد او ګټه ترې اخيستل کيږي. خو اسلامي امارت د برېښنا د هغو پروژو له پاره هم کار روان کړی دی چې د افغانستان له خاورې تيريږي. له دې پروژو څخه يوه د کاسا زر پروژه ده چې له قرغزستان او تاجکستان هېوادونو څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته ۱۰۰۰ ميګاواټه برېښنا ليږدوي. دغه پروژه د کندوز د شېرخان بندر له لارې د هېواد ۷ ولايتونو (کندز، بغلان، پنجشير، کاپيسا، کابل، لغمان او ننګرهار) څخه تيريږي او د پاکستان خاورې ته دننه کيږي. له يادې پروژې څخه ۳۰۰ ميګاواټه برېښنا افغانستان ته ورکول کيږي. پاکستان به هر کال افغانستان ته لسګونه مېليون ډالر حق العبور هم ورکوي. ددې پروژې د کارونو په پيل سره ۱۳۰۰۰ زره کسانو ته د کار زمينه برابريږي. ټوتاپ پروژه د برېښنا بله هغه ستره پروژه ده چې له ترکمنستان څخه افغانستان ته ۵۰۰ کيلو ولټه برېښنا ليږدوي. ددې پروژو په بشپړيدو سره به د افغانستان د برېښنا په برخه کې ستونزې تر ډيره بريده حل شي. ددې ترڅنګ له ترکمنستان څخه افغانستان ته د ۵۰۰ کيلوولټه برېښنا د مزي غځولو پروژه ده چې د هېواد شمال ته راسيدلې ده. ددې پروژې چارې په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې پيل شوې او ټاکل شوې وه چې په ۲۰۲۱ ميلادي کال کې يې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي، خو داسې ونه شول ايله يې ۷۶ فيصده چارې ترسره شوې. دا پروژه چې د افغانستان له پاره يوه حياتي پروژه ده او په بشپړېدو سره به يې په هېواد کې د برېښنا په برخه کې شته ستونزې تر ډېره بريده حل شي، دغه راز به ميليونونه ډالره ځکه سپما وکړو چې ددې مزي له لارې چې کومه برېښنا له ترکمنستان څخه راځي، د هغې بيه د نورو وارديدونکې برېښنا په پرتله ټيټه ده. د روان کال د عقرب په ۲۴مه د ۳۶ميليونو ډالرو په ارزښت د شبرغان- دښت الوان د ۵۰۰ کيلوولټه مزي غځولو د پاتې چارو او د دښت الوان د سب سټيشن د پراختيا پروژو د بشپړولو هوکړه ليکونه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانستان برېښنا شرکت او افغان انوېسټ خصوصي شرکت ترمنځ لاسليک شول. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د برېښنا اهميت ته په اشارې سره وويل، د يوه هېواد د اقتصادي ودې لپاره صنعت تر ټولو مهم دی، د نړۍ هغه هېوادونه چې له جګړو راوتلي او چټک اقتصادي پرمختګ يې کړی دی، اساسي لامل يې د صنعت پرمختګ دی. د اسلامي امارت په راتګ سره افغانستان هم د صنعت په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی دی او لا هم هڅه کوي چې په هېواد کې د صنعت د پرمختګ لپاره هر ډول شرايط او زمينه برابر کړي، خو د صنعت په پرمختګ کې تر ټولو مهم فکتور برېښنا ده. له شبرغان څخه تر دښت الوان پورې د برېښنا دغه پروژه چې له افغان انوېسټ خصوصي شرکت سره يې قرارداد وشو، نه يوازې دا چې د هېواد صنعت ته به يې ګټه ورسيږي، بلکې په دې سره به افغانستان ته د سلګونو ميګاواټه برېښنا د انتقال زمينه هم برابره شي او په کلنۍ ډول به سلګونه ميليونه ډالر سپما وشي. له دې وړاندې د روان کال د ميزان په مياشت کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د اوبو او انرژۍ وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ د ۷۵ ميليونو ډالرو په ارزښت د انرژۍ د ٦ پروژو تړونونه لاسليک شول. په دې تړونونو کې له دښت الوان څخه تر کابل پورې د ۵۰۰ کيلوولټ مزي د غځولو، د ارغندی د سب سټيشن د پاتې چارو بشپړولو، په ترخيلو سيمه کې د نوي سب سټيشن جوړولو، د ۲۳کيلومترو په اوږدوالي له چمتلې سب سټيشن څخه تر ترخيلو سب سټيشن پورې د ۲۲۰ کيلوولټ مزي غځولو، د کابل د ارغندی سب سټيشن پراختيا او د کابل په بت خاک کې د نوي سب سټيشن جوړولو پروژې شاملې دي چې په بشپړيدو سره به يې له ترکمنستان څخه افغانستان ته نوره زر ميګاواټه برېښنا وارده شي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت هڅه کوي د برېښنا په برخه کې شته ستونزې هوارې کړي او پرمټ يې لومړی صنعت ته پراختيا ورکړي او بيا له دې لارې ټول هغه سکتورونه پر پښو ودروي چې برېښنا ته اړتيا لري. له دې سره به د افغانستان اقتصادي يون نور هم ګړندی شي.

## پايله


که د پورتنۍ ليکنې غورچاڼ راټول کړو؛ نو دې پايلې ته رسېږو چې د برېښنايي انرژۍ د چمتو کولو له پاره خو ټکي مهم دي. لومړی دا چې نن سبا برېښنا په نړۍ کې ډېر زيات اهميت او ارزښت لري. د پرمختللو هېوادونو وګړي ان په دې باور دي چې له برېښنا پرته ژوند اصلاً دوام نه شي پيدا کولی، ځکه د کورونو له روښانولو نيولې بيا صنعتي، توليدي کارخونو، ښوونځيو، پوهنتونونو، روغتونونو او حکومتي ارګانونو پورې ټول برېښنا ته اړتيا لري او ځينې خو لا داسې وسايل هم شته

چې له برېښنا پرته د کار وړ نه دي. دغه راز ټکنالوژیکي وسایل خو له برېښنا پرته بې اهمیته دي او کوم اهمیت نه لري، ځکه که برېښنا نه وي، نو د هغو کارول هم ناشوني دي. له دې امله د ارزانې، باکیفیته او دوامدارې برېښنا موجودیت اړین دی. دې اهمیت ته په کتو افغانستان اړ دی چې د خپلې اړتیا وړ برېښنا چمتو کړي. هغه که په کور دننه وي او یا هم واریدونکې برېښنا. دا مهال افغانستان د خپلې اړتیا وړ برېښنا زیاته برخه له بهر څخه واردوي. له دې جملې څخه یو هم له ترکمنستان څخه د ۵۰۰ کیلوولټه برېښنا مزی دی. ددې پروژې زیاته برخه کارونه ترسره شوي او د یوې برخې پاتې چارو د بشپړېدو هوکړه یې اوسمهال له افغان انویسټ خصوصي شرکت سره وشوه. ددې پروژې په بشپړېدو سره به د کابل او شاوخوا ولایتونو ستونزې تر ډېره برېده حل شي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د برېښنا ستونزې ته پای ورکړي. اسلامي امارت پر دې پوه دی چې که چېرې برېښنا نه وي، نو نه شي کولای خپل هېواد یو صنعتي او پرمختللی هېواد کړي. صنعت، سوداګري، حکومتولي، کرنه لنډه دا چې نن سبا هر څه د برېښنا پر مټ چلېږي او پرمختګ کوي. له دې پرته ناشونې ده چې یو هېواد دې پرمختګ وکړي او اقتصاد دې غښتلی او پیاوړی شي. که چېرې دا پروژه عملي شي، نو بیا به موږ پر دې وتوانیږو چې خپل صنعت وغوړو او تر څنګ یې نور سکتورونه هم په پښو ودروو.



# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۹,۹۰؋ | ۷۰,۰۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۳؋ | ۲۳۴؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۶؋ | ۱,۳۸؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۳,۴۰؋ | ۷۳,۶۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۱,۲۰؋ | ۱,۳۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۹۸۰؋ | ۱۰۲۰؋ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ۸۹,۰۰؋ | ۸۹,۵۰؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۲۳,۵۵؋ | ۲۳,۶۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲۴,۳۰؋ | ۲۴,۴۰؋ |
| ۱ | چیني ین | ۱۶,۵۰؋ | ۱۶,۶۰؋ |